## ژبني اختلافات، رېښې او د اسلامي دولت حل لارې




د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ، په مورنۍ ژبه د زده کړو حق، مورنۍ ژبې ته خدمت، ژبه مور ده او داسې نور شعارونه به مو اورېدلي وي. کله مو فکر کړی چې دا شعارونه د څه لپاره دي؟ څوک يې تر شا دي؟ لوېديځ له ژبنيو اختلافاتو د استعماري موخو لپاره څنګه ګټه اخلي؟ اسلام ژبې ته له کومه اړخه ګوري او د اسلامي دولت ژبنی سیاست څه دی؟ په دې دغه بحث کې همدغو پوښتنو ته ځواب وايو.

د مسلمانانو د بېلولو لپاره له ملي پولو او قومي او نژادي توپيرونو ور هاخوا يو بل شی چې مسلمانان سره بېلوي، ژبه ده. غربي هېوادونه د اسلامي هېوادونو د ټوټه کولو لپاره له ژبنيو توپيرونو ګټه اخلي. دوی ژبه د يو ستر ارزښت په توګه را مخکې کوي او د ورونو ترمنځ يې د ټکر لامل ګرځوي. د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې يونيسکو او يونسيف په فرهنګي او تعليمي کچه ددې لپاره کار کوي چې د مسلمانانو ترمنځ د ژبې تفاوته لوی کړي. د نورو ستونزو ترڅنګ ژبې هم د مسلمانانو د يووالي پر وړاندې د يو خنډ په توګه کارېږي. ژبني اختلافونه د اسلامي امت د بېلولو لپاره لا هم د غرب له خوا د يوې وسيلې په توګه کارول کيږي. دوی د ځانګړو ادارو له لارې همدې چارې ته کمپاين کوي.

له ملي دولتونو سره د دولتونو ژبو هم ارزښت پيدا کړ. ژبه د دولت ملت د جوړېدو له اساسي توکو څخه ده. له همدې امله هغوی چې واحده ژبه نه لري، يا ژبني اختلافات لري، د ملت کېدو په لاره کې يې خنډونه شته. پياوړي دولتونه د ملتونو د پياوړي کولو لپاره ځانګړي ژبنيز سياستونه لري. د بېلګې په ډول چين يو داسې قانون جوړ کړی چې وګړي يې له مخې بهرني کلمات او يا ناسمه چينايي ژبه نه شي کارولی. ددغه قانون له مخې پوتنګوا لهجه د چين رسمي ژبه ده او ټولې رسمي چارې، راډيو، ټلويزون او هر څه بايد پر همدې ژبه وشي. ګڼ نور دولتونه هم همداسې ځانګړي سياستونه لري. لوېديځ ژبنيو مسايلو ته په پراخه کچه کمپاين کوي.

موږ پوهيږو چې د اسلامي امت ترمنځ د ستونزو يو ستر لامل ژبنی توپير دی. د پاکستان او بنګله دېش د جلا کېدو تر ګردو ستر لامل ژبنی و. بنګالیانو حق نه درلود چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې وکړي. لوديځ همدا اختلاف لوی کړ او د اسلامي امت يوه لويه برخه يې دوې ټوټې کړه. موږ پوهيږو چې په افغانستان کې د کورنيو جګړو يو لامل ژبنی توپير و. جهادي ډلې سره له دې چې د اسلام دعوه يې کوله، خو د هغوی د رهبرانو په زړه کې لا هم قومي او ژبني تمايلات وو. له همدې لامله پر جمعيت زيات دری ژبي او پر حزب اسلامي ډېر پښتانه را ټول شول. ان دا خبره د خلق او پرچم ترمنځ هم وه، خلقيان لويه برخه پښتانه او پرچميان لويه برخه دري ژبي وو.

لوېديځ د ازاديو په لړ کې د ژبې ازادي هم په کاذبانه ډول وړاندې کوي، داسې چې نورو ته يې مهمه ښيي، خو خپله پرې عمل نه کوي. د جرمني د هانوفر يو روغتون د يوې ترکۍ ښځې د زړه عمليات له دې امله ونه کړل چې ګواکي هغه په الماني ژبه نه پوهېدله. د روغتون چارواکو د ناروغ او ډاکټرانو ترمنځ د تفاهم د ژبې نشتوالی ددغه کار لامل وګاڼه. دا يوازينۍ پېښه نه ده. په اروپايي هېوادونو کې ډېر داسې کيږي چې روغتونونه د ناروغانو له منلو انکار کوي او دليل يې هم دا وي چې دوی له ناروغانو سره د تفاهم ژبه نه لري، نو له دې امله ښايي ناروغ ته ستونزې پيدا شي. دا ښايي رښتيا هم په ځينو حالتونو کې روغتيايي ستونزه وي او يوازې له دې اړخه ورته وکتل شي، خو ډېری وخت ورته له شک پرته د ژبنيز سياست له زاويې کتل کيږي. روغتونونه په دغه ډول دريځ سره غواړي چې بهرني وکړي د خپلې ژبې زده کړې ته اړ باسي. يوازې روغتونونه نه دي، بلکې ښوونځي، پوهنتونونه او ګڼ نور مرکزونه هم همدغه ډول چلند کوي، چې بنسټ يې ژنبی سياست دی.

دوی خپله دا ډول چلند کوي، خو د اسلامي امت د وېشلو لپاره بيا له هغوی سره په معاملو کې ژبني مسايل د شرايطو په توګه وړاندې کوي. دوی په اسلامي امت کې ژبني اختلافات پياوړي کوي، له همدې امله ځيني پروګرامونه لري چې موږ يې دلته يادونه کوو:

**د يونسکو پروګرامونه:**

يونسکو په ظاهره يو ښکلی، خو مغرضانه شعار وړاندې کوي، دوی وايي، ژبې د بشريت ګډ ميراث ګڼل کيږي چې بايد ساتنه او پالنه يې وشي. ددې تر څنګ نور داسې نړيوال اسناد او اعلاميې خپرې شوې چې دا د هر ماشوم بشري حق ګڼي چې په خپلې مورنۍ ژبه زده کړه وکړي. دوی په دې ډول ژبې يو فرهنګي مميزه ګڼي، داسې چې انسانان سره بېلوي. له همدې امله ژبني پروګرامونه نيسي، په مورنۍ ژبې زده کړې ته کمپاين کوي او ګڼ نور کارونه کوي چې ژبني اختلافات زياتي شي. که څه هم په ظاهره ددغو شعارونو هدف ښه زده کړه او طبيعي حق دی، خو دوی ترې د سياسي موخو لپاره کار اخلي.

**د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ:**

په ۱۹۹۹ کال کې ملګرو ملتونو د فبرورۍ ۱۹مه د مورنۍ ژبې د نړيوالې ورځې په نوم ياده کړه. په ۱۹۴۸زيږديز کال د مارچ په ۲۱ پاکستاني ګورنر جنرل محمد علي جناح اردو ژبه د پاکستان يوازنۍ

ملي ژبه اعلان کړه، خو بنګله دیشیانو ونه منله او په لاریونونه یې لاس پورې کړ، څکه چې هغوی خپله بنګالي ژبه په رسمیاتو، نصاب او زده کړو کې هم شامله غوښته، خو پاکستاني پولیسو د ۱۹۵۲ کال د فبروري د ۲۱مې نیټې پر سوله ییز لاریون وسله وال برید وکړ، چې د ډاکې د ملکي او طِبي پوهنتون ځو تنه محصلان یې ووژل. همدا اختلافات وروسته دومره زیات شول چې یو ستر هېواد په دوو برخو پاکستان او بنلګه دیش وویشل شو. غربیانو دا تجربه بریالۍ وبلله او د مسلمانانو د بېلولو لپاره یې همدا ورځ د مورنۍ ژبې په نامه یاده کړه. اوس هر کال په همدې ورځ د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ نمانځل کیږي چې تر بل هر ځای په اسلامي هېوادونو کې ډېره لمانځل کیږي، خو وروسته ژبني اختلافات زیاتیږي.

**په مورنۍ ژبه د زده کړې حق:**

دا شعار هم یو احساساتي او پاک شعار ښکاري، خو ربښتیا دا نه دي چې په دې شعار سره ماشومانو ته په مورنۍ ژبه دې د زده کړې زمینه برابریږي، بلکې ددغه شعار پر اساس مسلمانان نور هم سره ویشل کیږي. ملګري ملتونه، په ځانګړي ډول یونسکو او یونسف داسې پروګرامونه لري چې دا توپیر زیات شي.

ژبني احساسات ربښتیا هم په مسلمانانو کې اوس پیاوړي شوي دي. اوس ژبه داسې نه تعرفیږي چې ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده، بلکې په پوهنتونو کې د ژبې تعریف داسې دی چې ژبه د هویت برخه ده. له همدې لامله ژبه اوس تر وسیلې زیاته مهمه شوې او د مسلمانانو په منځ کې یې درځونه پیدا کړي دي.

**په اساسي قوانینو کې د ژبو بحث**

د افغانستان په شمول کې د هغو هېوادونو کې په اساسي قوانینو کې چې د غرب له خوا ورته قانون جوړ شوی دی، ژبنیو اختلافاتو ته پراخه لمن وهل شوې ده. د افغانستان اساسي قانون پښتو او دري رسمي ژبې ګڼي، خو نورې ژبې په خپلو سیمو کې رسمي ګڼي او د تعلم حق ورکوي. د افغانستان د حالاتو پر اساس دا بیخي ستونزمنه چاره ده چې پښه یې ته د کتاب او استاد په پښه یې برابر شي. که برابر هم شي، له نورو خلکو د بېلوالي احساس کوي. له همدې امله په قوانینو کې د یوه اوږده نفاق تخم کري. د همدې ژبني اختلاف په لړ کې یې ملي سرود په پښتو ژبه کړی دی چې تل یوه جنجالي او نفاق زېږدونکې موضوع ده. په حکومت کې بیا د رسمیاتو ژبه دري ته چې پښتانه پکې د پردیتوب احساس کوي او دا چاره مخامخ له ژبنیو اختلافاتو سره تړي.

په ترکیه کې بیا خبره د ترکي ژبې ده چې تر اوسه پورې لا کردان په خپله ژبه د زده کړو او ان کله کله د خبرو حق نه لري. دغه ډول کارونه هم د نفاق لپاره کیږي.

**د ژبې د سوچه والي بحث**

هغه ژبې چې د عربي تر اغېز لاندې دي، عربي کلمات پکې دي او یا یې لیک عربي دی، په منظم ډول پکې هڅه کیږي چې عربي ترې لرې شي. د عربي کلماتو د ایستلو پروګرام په منظم ډول روان دی. په

پښتو او دري کې هم موږ همداسې هڅې وینو. عربي لیکدود بدلوي، لکه په ترکیه کې یې چې بدل کړ. تاجکستان روسي لیک کاروي. همداسې نور مثالونه هم شته. په دې ډول مسلمانان له عربي او اسلام نه لرې کیږي او دا چاره په خپله د عرب او غیر عرب ترمنځ د واټن سبب ګرځي.

په عربي کې بدلون:

په عربي ژبه کې هم پراخ بدلونونه راغلي. ځانګړي مرکزونه او بنستونه ددې لپاره کار کوي چې عربي مفسده کړه او دومره بدلون پکې راولي چې خلک له قران او احادیثو سره نه اشنا شي. دا هڅې له پخوا رواني دي او اوس هم ځانګړي مرکزونه دې همدې لپاره کار کوي.

**په خلافت کې دا ستونزه څنګه حل کیږي او د خلافت ژبنی سیاست څه دی؟**

د اسلامي دولت دستور چې د حزب له خوا وړاندې شوی دی په اتمه ماده کې یې راځي:

**عربي ژبه د اسلام یوازینۍ ژبه ده او یوازینۍ ژبه ده چې دولت یې کاروي.**

دلته اوس درې بحثونه دي، لومړی عربي د اسلام ژبه ده. دویم دولت یوازې عربي ژبه کاروي. دریم، له نورو ژبه سره به څه کیږي؟ د دستور شرحه همدغه بحثونه واضح کوي.

ټول مسلمانان پر دې متفق دي چې عربي د اسلام ژبه ده، قرانکریم په عربي ژبه دی. له همدې لامله عربي د اسلام ژبه ده. ددې معنی دا نه ده چې اسلام په بله ژبه نه شي بیانېدلی، خو ځیني کارونه له عربي پرته ناشوني دي. د قرانکریم ترجمې ته قرانکریم نه شي ویل کیدای. لمونځ له عربي پرته په بله ژبه نشي کیدای، اجتهاد پر عربي له پوهې پرته نه شي کیدای. خو اسلامي احکام په نورو ژبو تشریح کېدلی شي، قرانکریم ژباړل کیدلی شي او تفسیر یې هم بیانېدلی شي. دلته ډېر د بحث ځای هم نشته.

څه چې د بحث وړ دي، ددغه مادې دا برخه ده چې یوازې عربي د دولت ژبه ده. یعنې دولت له عربي پرته بله ژبه نه کاروي. دولتي اداري، دولت له خلکو سره، دولت له نورو دولتونو سره یوازې غربي د رسمي او دولتي ژبې په توګه کاروي. رسوالله صلی علیه وسلم په مدینه منوره کې د دولت له تاسیس وروسته فارس، روم او مصر واکمنو ته په عربي ژبه لیکونه ولېږل. که څه هم د لیکونو د ترجمې امکان و، خو رسوالله صلی الله علیه وسلم دا کار ونه کړ او په عربي یې ولېږل، چې دا خپله ښیي عربي د اسلامي دولت ژبه ده. په اسلامي دولت کې ټول مسلمانان ملکف دي چې عربي ژبه زده کړي، ځکه عربي هم د اسلام او هم د دولت ژبه ده. امام شافعي هم ویلي دي، له دې لامله چې عربي د قرانکریم ژبه ده او هر مسلمان د قرانکریم مخاطب دی، نو د عربي ژبې  زده کړه فرض ده. دغه راز له دې لامله چې موږ خدای تعالی ته په همدې ژبه عبادت کوو، نو ځکه یې هم زده کړه فرض ده. د رسوالله صلی الله علیه وسلم کار موږ ته واضح کوي چې د عربي کارول شرعي حکم دی، نه وسیله، ځکه رسوالله صلی الله علیه وسلم تر پایه پورې بله ژبه د دولت د ژبې په توګه نه ده کارولې. که څه هم اصحاب کرام یې

تشویق کړي چې نورې ژبې زده کړي، له غیر مسلمانانو ورته پیغامونه په نورو ژبو راغلي دي، خو د خپل دولت ټول کارونه یې په عربي ژبه کړي دي.

ددې معنی دا هم نه ده چې له عربي پرته د نورو ژبو کارول جواز نه لري. موږ نورې ژبې د افهام او تفهیم لپاره کارولی شو، اسلام پرې لیږدولی شو او په دې کې هېڅ ستونزه نشته. ځکه رسوالله صلی الله علیه وسلم خپله سریاني او عبري ژبې کارولي دي. له دې لامله عربي د اسلامي دولت رسمي ژبه ده او دا معنی نه لري چې پر نورو ژبو به بندیز وي.

د اسلام دولت رسنۍ به په عربي ژبه خپروني کوي، خو نور خلک کولی شي له عربي پرته په نورو ژبو هم رسني ولري. یعني تلویزیونونه او ورځپاڼې هم له عربي پرته په نورو ژبو خپروني کولی شي.

که د قانون عملي کیږي مسلمانان به پر دې اختلاف نه پیدا کوي چې د کوم قوم ژبه دې په دولت کې وي او د کوم دې نه وي. څوک دې په مورنۍ ژبه د زده کړې حق ولري او څوک دې یې ونه لري. دا ټول به عربي وي او البته د تفاهم لپاره به نورې ژبې کارول کیږي. په دې سره به هم د مسلمانانو د ویشلو لپاره د غرب دسیه شنده شي، ژبني اختلافات به کم شي او مسلمانان به د یو واحد دولت په توګه عمل کوي.

ځیني کسان فکر کوي چې په دې ډول نورې ژبې له منځه ځي، خو دا هغه فکر دی چې له اوسنیو غربي ارزښتونو سرچینه اخلي. ځکه اسلام یوه ژبه هم له منځه یو نه وړه. خو یوه ژبه د مسلمانانو د وحدت لامل ګرځي. که اسلامي دولت نورې ژبې له منځه وړلای، نو له عربو پرته په نورو سیمو کې د اسلامي دولت سلګونه کلونه واکمنۍ به نورې ژبې په بشپړ ډول له منځه وړې وې، چې داسې ونه شول.

**زمری افغان**